آصف بهاند

۲۰۱۷/۰۲/۱۴

| |
|---|
| د زلمي شاعر شهنواز باقر د لاندني بیت په اقتفا: |
| « کورجوړوم په کې کرم د قلمونو ونې          کور جوړوم ورته راوړم د کتابونو ښېتې» |
| (شهنواز باقر) |

# کور جوړوم نښلوم
# د نوي نسل کړی



کور جوړوم آبادومه د فکرونو مانی
کور جوړوم ورته راوړم د نوي عصر نړی
کور جوړوم پکې جګوم د نوي دور مانی
کور جوړوم ور ته راوړمه د بڼکو ځولی
کور جوړوم چې ولري د یوې مینې خولګی
کور جوړوم چې په کې نه وي د چا آه و سلګی
کور جوړوم نښلوم د نوي نسل کړی
کور جوړومه او پالم د نویو خلکو لړی
کور جوړوم پر مخ بیایم د نوي عصر ګړی
کور جوړوم چې ور ګډ شم په نوي عصر و سیالی
کور جوړوم لرې کومه له فکرو تروږمی
کور جوړوم په خپله مټه، پکې وهم پلتری
سفر کوم او جوړومه د سیالی بڼه بیری
سرای به شي جوړ نه به وي غم او راولم خوشالی

آصف بهاند ۲۰۱۶/۰۵/۲۰



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ